فقیر


۲۳ سپتمبر ۲۰۲۴

## د کاکا سام د ختېکي پوچاق

لعنت دې په دې تاپي پروژه شی! دا داسي ده لکه څوک چي خربوزه خوري او پوچاق ته يي موړ خوشحاله شو.

تفصيل:

د انرژي د بحران په دې پړاو کی کله چی گريفن نفتی شرکت او په دې کې د ذليلزاد زوی د ترکمنستان د انرژي منابعو ته متوجه شو، نو هند او د سمندر غاړو ته يي د دغو زيزمو د کشولو نقشه سر کې وگرځيده، هند هم دا غوښتل، دپاکستان هم گاز ته اړتيا وه.

دا وخت(نويمه لمريزه لسيزه) افغانستان کی د اشرارو اندو خر و. وطن دتنطيمونوپه کورنی جگړه کې سور اور گرځيدلی و.

يونيکال اوبرايداس د گازود نلليکی غځولو نقشه باندی فکر کاو. خو د اشرارو په موجوديت کې ددې پايپلاين غځول ناممکن و، يونيکال او ذليلزاد ته دمدرسو مفته گورکه لښکر ورياد شو. پاکستان هم دغي خبرې ته خوشحاله شو. پاکستان پوهيد چی کله د تاپي گازليکه غځيږی، سيمه کې ترانسپورت هم ښه کيږي، نو پاکستان بالمقابل خپل کم کيفيته توليدات ډير ښه ډول باندی ترکمنستان او نورې مرکزی اسيا ته استولای شی.

ډېر ژر يي د وړيو-تړيو، معيوبو چړيانو او طالبانو لېتون شروع کړ يو معيوب يکی ملاعمر بيچاره د دنيا له حاله ناخبره طالب و. ډير ژر يی د شراوفساد دمحو کولو په نوم سره راټول او په کندهار يی رامارش کړل. طالبانوله اشرارو سره ښه جگړه وکړه، ډېر معصوم ځوانان يی هلاک شول، شورای نظار يی تر کولاک ورسوله او آن کابل يی ونيو.

خو القاعدی د امريکی د گټو او د گازليکی پروا ونه ساتله خپل مقاصد يی پرمخ وړل په نتيجه کی د تجارتی برجونو پېښه وشوه. بوش وپتېيله چی د ديموکراسی او يوې نوی سياسی پروسي له طريقه افغانستان باندی ولکه ولری، خو له بده مرغه دشروفساد مافيا بيا وده وکړه او ټول حاکميت يی تاثير لاندی راوست.

ميلياردونه کمکونه يی ځانته ووهل، ملت يی دلسرد او دبيارغاونی پيسي يی حيف وميل کړې. پاکستان هوښياري وکړه بيا يی مدرسي او طالبان راتازه کړل. طالبانو ناامني شروع کړه، د هيڅ پروژې پرمخ بيولو ته يي موقع نه ورکوله په دې کې د تاپی قصه هم مفته شوه. آخر د امريکی زړه مفسده او متفرقه اداري ته زړه تنگ شو بيرته يی طالبان راوستل.

اوس هم تاپی صفا او مطمئنه نده. ډیره کاواکه او له چنلجونو ډکه ده، که څه کار هم وشی موږ به دې ته خوشحاله یو چی یو څو تنه افغانان به پکی مزدوران شي او یوڅه ګاز به هم ورڅخه اخلو، خو د دې په عوض مو که د جنوب غرب اوبه مهار کړی وای د نوی میلیونه نفوس لپاره مو غله تولیدولای شوه او د انګورو، انارو، هندوانو او نورو میوو او سبو حاصلات زعفران او پستې به د دی تاپی لس چنده ګټه راته کړی وای.

له دی برعلاوه دمالګي، سمنتومعادن یورانیم او نور تر دی هم لا زیات ګټور و. افسوس چی هوښیار زعامت، متحد ملت او مسؤول او متعهده میدیا نلرو، دپاکستان په شان یوشیاد او مضر ګاونډی موږ ارامی او ثبات ته نه پریږدي . خلک مو جهالت او توره تیاره کې دي. دپردیو پوچاقونو او د کباب بوی ته خوشحاله دي؛ ځان سره وایي دوی به کله ختیکی وخوری چی موږ ته یی پوچاقونه راورسیږي. حال داچی کوم قیمتی منابع چی موږ یی لرو د نړی پرمخ یی ډیر هیوادونه نه لري. خدای دی په دې ملت ورحمیږي. ریښتیا چې ناپوهي توره تیاره ده.